د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره
اداره ملی تنظیم امور آب

# پـه اوبخوړ کې د سیـــلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي کړنلاره

# طرزالعمل آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز



پـه اوبخوړ کې د سیـــلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي کړنلاره
طرزالعمل آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۹ ل. هـ کال د سلواغه (۲۳)
تاریخ نشر: (۲۳) دلو سال ۱۳۹۹ هـ. ش

# فهرست مندرجات

## طرزالعمل آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز

ماده | عنوان | صفحه

### فصل اول
### احکام عمومی

مادهٔ اول منظور ...... ۱
مادهٔ دوم اهداف ...... ۱
مادهٔ سوم اصطلاحات ...... ۲
مادهٔ چهارم اصول ...... ۳
مادهٔ پنجم عرصه تطبیق ...... ۳

### فصل دوم
### وظایف، صلاحیت ها ومسئولیت ها

مادهٔ ششم وظایف و صلاحیت های ادارهٔ ملی تنظیم امور آب ...... ٤
مادهٔ هفتم وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی منابع آب ...... ٤
مادهٔ هشتم وظایف و مسئولیت های ریــاست دفتر ...... ٥
مادهٔ نهم وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی تنظیم امور آب ...... ٦
مادهٔ دهم وظایف و مسئولیت های ریاست های عمومی حوزه دریائی ...... ٦
مادهٔ یازدهم وظایف و مسئولیت های ریاست های حوزه فرعی دریائی ...... ۸
مادهٔ دوازدهم وظایف و مسئولیت های میراب ها و انجمن های استفاده کنندگان آب ...... ۹

### فصل سوم
### احکام نهایی

مادهٔ سیزدهم نشست های مشورتی جهت آگاهی دهی عامه ...... ۱۰
مادهٔ چهاردهم پروسه آگاهی دهی ...... ۱۲
مادهٔ پانزدهم آگاهی دهی عامـــه قبل از وقوع سیلاب ...... ۱۳
مادهٔ شانزدهم آگاهی دهی عـــامه در جریان وقوع سیلاب ...... ۱٤
مادهٔ هفدهم آگاهـــی دهی عـــامه بعد از وقوع سیلاب ...... ۱٥
مادهٔ هژدهم ایجاد هماهنگی ...... ۱٦
مادهٔ نزدهم نشر مطالب آگاهی دهی عامه ...... ۱۷
مادهٔ بیستم تدویر برنامه های آموزشی ...... ۱۷
مادهٔ بیست ویکم هشدار دهی ...... ۱۸
مادهٔ بیست و دوم وضع لوایح و رهنمود ها ...... ۱۸
مادهٔ بیست و سوم انفاذ ...... ۱۹



د افغانستان اسلامي جمهوریت
Islamic Republic of Afghanistan
National Water Affairs Regulation Authority
د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره
ریاست پالیسی آب
Department

# په اوبخوړ کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي کړنلاره

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

منظور

لومړی ماده:

دا کړنلاره په اوبخوړ کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي په موخه وضع شوې.

موخې

دوهمه ماده:

د دې کړنلارې موخې عبارت دي له:

۱- په اوبخوړ کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي د اړونده چارو تنظیم.

۲- د عامه پوهاوي له لارې د سیلاب ګواښونو او زیانونو کمولو د مدیریت ښه کول.

# طرزالعمل آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز

## فصل اول

## احکام عمومی

منظور

مادهٔ اول:

این طرزالعمل بمنظور آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز وضع گردیده است.

اهداف

مادهٔ دوم:

اهداف این طرزالعمل عبارت است از:

۱- تنظیم امور مربوط به آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز.

۲- بهبود مدیریت کاهش خطرات و خسارات سیلاب از طریق آگاهی دهی عامه.

۳- په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه مشارکت پیاوړتیا.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

(۱) د اوبو د چارو د تنظیم قانون، په اوبخور کې د سیلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو کړنلارې او په اوبخور کې د سیلاب د پېښیدو وړاندوینې او خبرتیا کړنلارې اصطلاحګانې چې په دې کړنلاره کې ترې ذکر شوی، ورته مفهومونه څرګندوي.

(۲) په دې کړنلاره کې ښکتنۍ اصطلاحګانې لاندې مفهومونه څرګندوي:

۱- عامه پوهاوی: د ورکشاپونو، پله اییزو رسنیو او بروشرونه په مرسته د علمي، عملي او مدیریتي میتودونو وړپېژندلو لارې د سیلاب تر ګواښ لاندو سیمو میشت وګړو، د سیندي حوزې



۳- تقویت مشارکت عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

(۱) اصطلاحات مندرج قانون تنظیم امور آب، طرزالعمل کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز، طرزالعمل پیشگوئی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز که از آن در این طرزالعمل تذکر بعمل آمده، همان مفاهیم را افاده می‌نماید.

(۲) اصطلاحات آتی در این طرز العمل مفاهیم ذیل را افاده می نمایند:

۱- آگاهی دهی عامه: عبارت از بلند بردن سطح آگاهی عامه از طریق معرفی روش های علمی، عملی و مدیریتی به اهالی ساحات تحت خطر سیلاب، شورای های حوزه های دریائی،

شوراګانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، میرابانو او نورو اړونده بنسټونو د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

**اصول**

**څلورمه ماده:**

د دې کړنلارې د حکمونو په پلي کولو کې دې لاندې اصول مراعات شي:

۱- د اړونده تقنیني سندونو حکمونه.

۲- ملي او بین المللي موخې، او

۳- د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت.

**د پلي کیدو ساحه**

**پنځمه ماده:**

د دې کړنلارې حکمونه په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي په چارو کې د پلي کیدو وړ دي.

انجمن های استفاده کنند گان آب، میرابها و سایر نهاد های مردمی از طریق تدویر ورکشاپ، رسانه ها و نشر بروشر.

**اصول**

**مادۀ چهارم:**

در تطبیق احکام این طرزالعمل اصول ذیل رعایت گردد:

۱- احکام اسناد تقنینی مربوطه.

۲- اهداف ملی و بین المللی، و

۳- مدیریت همه جانبه منابع آب.

**عرصه تطبیق**

**مادۀ پنجم:**

احکام این طرزالعمل در امور آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب درحوزه آبریز قابل تطبیق می باشد.



د افغانستان اسلامي جمهوریت
Islamic Republic of Afghanistan
National Water Affairs Regulation Authority
ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

## دوهم څپرکی
## دندې، صلاحیتونه او مسئولیتونه

<u>د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری دندې او صلاحیتونه</u>

شپږمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره د عامه پوهاوي په هکله لاندې دندې او صلاحیتونه لري.

۱- د سیلاب مدیریت په ښه والي کې د خلکو د بنسټونو مشارکتي رول د پیاوړتیا په موخه د ورکشاپونو جوړولو لپاره د مالي سرچینو سمون.

<u>د اوبو سرچینو عمومي ریاست دندې او مسئولیتونه</u>

اوومه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي په اړه د اوبو سرچینو عمومي ریاست اړ دی، چې د

## فصل دوم
## وظایف، صلاحیت ها ومسئولیت ها

<u>وظایف و صلاحیت های ادارهٔ ملی تنظیم امور آب</u>

مادهٔ ششم:

ادارهٔ ملی تنظیم امور آب در خصوص آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- انسجام منابع مالی به منظور تدویر ورکشاپ های آگاهی دهی عامه جهت تقویت نقش مشارکتی نهاد های مردمی در بهبود مدیریت سیلاب.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی منابع آب</u>

مادهٔ هفتم:

ریاست عمومی منابع آب در خصوص آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز مکلف است، که با

هایدرومتیورلوژیکي ارقامو او معلوماتو د تحلیل په پام کې نیولو سره، د سیلاب د تشخیص شوو زونونو، د سیلاب تر ګواښ لاندې سیمو موډلونو او د وړاندویل شوو سیلابونو پایلې د اړونده ریاستونو سره د پوهاوي په موخه شریک کړي.

<u>د د فتر ریاست دندې او مسئولیتونه</u>

اتمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي په اړه د دفتر ریاست مکلف دی، تر څو د سیلابي اورښت د نقشو او موډلونو د تحلیل پایلې، د اوبو سرچینو د حریم ساتنې لارښودونه او نور اړونده معلومات د اداري له رسمي سایت څخه نشر کړي.

درنظرداشت تحلیل ارقام و معلومات هایدرومتیورلوژیکی، مدل سازی زون های سیلابی، ساحات تحت خطر سیلاب و پیشبینی سیلاب ها را انجام داده و نتایج آنرا جهت آگاهی دهی با ریاست های مربوط شریک سازد.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست دفتر</u>

مادهٔ هشتم:

ریاست دفتر در خصوص آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز مکلف است، تا نقشه ها و نتایج مدل های تحلیل شده بارندگی های سیلابی، رهنمود های حفاظت از حریم منابع آب و سایر موارد مربوطه را از طریق سایت رسمی اداره نشر نماید.

## د اوبو د تنظیم عمومي ریاست دندې او مسئولیتونه

نهمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي په اړه د اوبو د چارو د تنظیم عمومي ریاست مکلف دی، تر څو د عمومي او فرعي حوزو ریاستونو په مرسته د اوبو سرچینو د تل او حریم د غصب څخه د مخنیوي لپاره د عامه پوهاوي برنامې جوړې کړي.

## د سیندي حوزو د عمومي ریاستونو دندې او مسئولیتونه

لسمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي په چارو کې د سیندي عمومي حوزو ریاستونه لاندې دندې او مسئولیتونه لري:

۱- په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د سیلابي سیمو د پیژندنې لپاره د

## وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی تنظیم امور آب

مادهٔ نهم:

ریاست عمومی تنظیم امور آب در خصوص آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز مکلف است، تا برنامه های آگاهی دهی عامه را جهت جلوگیری از غصب بستر و حریم منابع آب در همکاری با ریاست های عمومی و فرعی حوزه های دریائی تدویر نماید.

## وظایف و مسئولیت های ریاست های عمومی حوزه دریائی

مادهٔ دهم:

ریاست های عمومی حوزه دریایی در امور مربوط به آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب، دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- هماهنگی با ادارات مربوطه جهت شناسایی ساحات سیلابی به غرض آگاهی دهی عامه به

عامه پوهاوي په اړه د اړونده ادارو سره همغږي.

۲- په اوبخور کې د سیلابي زونونو د ګواښونو د شدت په پام کې نیولو سره د عامه پوهاوي برنامو د پلان جوړول.

۳- په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د اړونده ریاستونو په مرسته او همغږۍ، د سیلاب زونونو د نقشو او د موډلونو پایلي، د سیلاب وړاندویني، او د اوبو سرچینو د تل او حریم ساتني د خبرتیاوو خپرول.

۴- د ظرفیت لوړولو او عامه پوهاوي د میتودونو د معرفي کولو په موخه د اړونده سیندي حوزو کارکونکو، د سیندي حوزو شورا ګانو، میرابانو، د اوبو څخه د ګټي اخیستونکو ټولني او د خلکو اړونده بنسټونو ته د روزنیزو

منظور بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز.

۲- پلانگذاری برنامه های آگاهی دهی عامه با در نظر داشت شدت خطرات زون های سیلابی در حوزه آبریز.

۳- همکاری و هماهنگی با ریاست های مربوطه در نشر و پخش نقشه ها و نتایج مدل های زون های سیلابی، پیشگوئی سیلاب و اطلاعیه های حفاظت بستر و حریم منابع آب جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز.

۴- همکاری و هماهنگی با حوزه های مربوطه جهت برگذاری ورکشاپ های آموزشی برای کارمندان حوزه های مربوطه، شورای های حوزه دریائی، میراب ها، انجمن های استفاده کننده گان آب و سایر نهاد های مردمی به منظور ارتقای ظرفیت و



ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

ورکشاپونو د جوړولو لپاره مرسته او همغږي.

<u>د سیندی فرعي حوزو د ریاستونو دندې او مسئولیتونه</u>

یوولسمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي لپاره د سیندي فرعي حوزو ریاستونه لاندې دندې او مسئولیتونه لري:

۱- په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه پوهاوي لپاره د سیلابي سیمو لومړنی پیژندنه.

۲- په اوبخور کې د سیلابي زونونو د ګواښونو د شدت په پام کې نیولو سره د عامه پوهاوي د پلانونو په تطبیق کې مرسته.

۳- د عامه پوهاوي په پلان کې د شاملیدو په موخه د سیلاب تر ګواښ لاندې سیمو څخه د ارقامو او معلوماتو راټولول او د

معرفی میتود های آگاهی دهی عامه.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست های حوزه فرعی دریائی</u>

مادهٔ یازدهم:

ریاست های حوزه فرعی دریائی در خصوص آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- شناسایی ابتدایی ساحات سیلابی جهت آگاهی دهی عامه به منظور بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز.

۲- همکاری در تطبیق پلان های آگاهی دهی عامه با در نظر داشت شدت خطرات زون های سیلابی در حوزه آبریز.

۳- جمع آوری ارقام و معلومات از ساحات تحت خطر سیلاب و شریک سازی آن با ریاست عمومی حوزه دریائی جهت

سیندي عمومي حوزو د ریاستونو سره شریکول.

۴- د اړونده سیندي حوزې شوراګانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولني، میرابانو او د خلکو واړه بنستونو سره د اوبو سرچینو د تل او حریم ساتني، د سیلاب وړاندویني، د سیلابي زونونو موډلونو پایلي او نقشو شریک کول.

۵- د اړونده کارکونکو، سیندي حوزو شوراګانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولني، میرابانو او د خلکو نور بنستونه د عامه پوهاوي لپاره د روزنیزو برنامو جوړول.

<u>د میرابانو او د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولني دندې او مسئولیتونه</u>

دوولسمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د عامه

شمولیت در پلان آگاهی دهی عامه.

۴- شریک سازی نقشه ها و نتایج مدل های زون های سیلابی، پیشگوئی سیلاب و حفاظت بستر و حریم منابع آب با شورای های حوزه مربوطه، انجمن های استفاده کننده گان آب، میراب ها و سایر نهاد های مردمی.

۵- تدویر برنامه های آموزشی جهت آگاهی دهی کارمندان مربوطه، شورای حوزه، میراب ها و انجمن استفاده کننده گان آب و سایر نهاد های مردمی.

<u>وظایف و مسئولیت های میراب ها و انجمن های استفاده کنندگان آب</u>

مادهٔ دوازدهم:

میراب ها و انجمن های استفاده کننده گان آب در خصوص آگاهی

پوهاوي په اړه میرابان او د اوبو څخه د ګټې اخیستونکي تولني لاندې دندې او مسئولیتونه لري:

۱- د عامه پوهاوي د پلانونو په پلي کولو کې د اړونده سیندي حوزو سره مرسته.

۲- په سیلابي زونونو او د اوبو مجراوو په تل او حریم کې د خپل سرو ودانیو جوړولو د مخنیوي لپاره په عامه پوهاوي کې مرسته.

۳- د سیندونو په حریم کې د نیالګیو د پراختیا او ساتنې د ارزښت په موخه د خلکو پوهاوی.

## دریم څپرکی
## نهائي حکمونه

<u>د عامه پوهاوي لپاره مشورتي ناستې</u>

**دیارلسمه ماده:**

دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- همکاری با حوزه دریائی مربوطه در تطبیق پلانهای آگاهی دهی عامه.

۲- همکاری در آگاهی دهی عامه جهت جلو گیری از اعمار ساختمانهای خود سر در زون های سیلابی، حریم و بستر مجاری آب.

۳- آگاهی دهی مردم به منظور اهمیت، حفاظت و توسعه نهال در حریم دریاها.

## فصل سوم
## احکام نهایی

<u>نشست های مشورتی جهت آگاهی دهی عامه</u>

**مادهٔ سیزدهم:**



Water Policy Department

(۱) په اوبخور کې د سیلاب مدیریت د ښه والي په موخه د خلکو بنستونو د ګډون پیاوړتیا لپاره د برخه اخیستلو لاندې مشورتي ناستې جوړې شي.

۱- د سیندي عمومي او فرعي حوزو تر منځ په هرو شپږو میاشتو کې یو ځل او یا د اړتیا په صورت کې د اړونده ریاستونو په وړاندیز د مشورتي ناستې جوړول.

۲- د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، میرابانو او د سیندي فرعي حوزو ترمنځ په هر دریو میاشتو کې یو ځل د مشورتي ناستو جوړول.

۳- د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، د میرابانو او خلکو تر منځ په میاشت کې یو ځل د مشورتي ناستو جوړول.

(۲) په مشورتي ناستو کې دې، د اوبو سرچینو د تل او حریم ساتنې، د اوبو کانالونو او

(۱) نشست های مشورتی ذیل به منظور تقویت نقش مشارکتی نهاد های مردمی جهت بهبود مدیریت سیلاب در حوزه آبریز صورت گیرد:

۱- تدویر نشست های مشورتی بین حوزه های عمومی و فرعی دریائی هر شش ماه یکمرتبه و در صورت ضرورت به پیشنهاد یکی از ریاست های مربوطه.

۲- تدویر نشست های مشورتی بین حوزه های فرعی دریائی، انجمن استفاده کننده گان و میراب ها هر سه ماه یکمرتبه.

۳- نشست های مشورتی بین انجمن های استفاده کننده گان، میراب ها و مردم ماه یکمرتبه.

(۲) در نشست های مشورتی در تنظیم امور حفاظت بستر و حریم منابع آب، پاک کاری و

مجراوو پاکولو، د سيلابي زونونو لومړنی پيژندني، تر سيلاب پيښيدو وړاندي، په بهير کي او د سيلاب پيښيدو وروسته د چارو د تنظيم په موخه دي عامه پوهاوی تر سره شي.

<u>د پوهاوي پروسه</u>

څوارلسمه ماده:

(۱) له لاندي لارو دي عامه پوهاوی ترسره شي:

۱- ټولنيزه شبکي او ډله ايزه رسانی.

۲- د عمومي او فرعي سيندي حوزو له لاري د ميرابانو، د اوبو څخه د ګټي اخيستونکو ټولني او د خلکو واړه بنسټونو عامه پوهاوی.

(۲) د دي کړنلارې د (۱۵ تر ۱۷) مادو د حکمونو په پام کي نيولو سره د ميرابانو، د اوبو څخه د ګټي اخيستونکو ټولني او د خلکو واړه بنسټونو لخوا د ښوونځيو، جوماتونو او مدرسو له

لايروبي مجرای های آب، شناسايي ابتدايي زون های سيلابی، روش های آگاهی دهی عامه قبل از وقوع سيلاب، در جريان سيلاب و بعد از سيلاب بحث صورت گيرد.

<u>پروسه آگاهی دهی</u>

مادهٔ چهاردهم:

(۱) آگاهی دهی عامه از طريق ذيل صورت گيرد:

۱- شبکات اجتماعی و رسانه های همگانی.

۲- آگاهی دهی ميراب ها، انجمن های استفاده کننده گان آب و ساير نهاد های مردمی از طريق حوزه های عمومی و فرعی دريائی.

(۲) آگاهی دهی عامه با رعايت احکام مواد (۱۵الی ۱۷) اين طرزالعمل توسط ميراب ها، انجمن های استفاده کننده گان آب و ساير نهاد های مردمی از طريق مساجد، مدارس و

لاري په کلیو او ښارګوټو کي دي عامه پوهاوی ترسره شي.

<u>د سیلاب د پیښیدو څخه مخکي عامه پوهاوي</u>

<u>پنځلسمه ماده:</u>

د سیلاب پیښیدو څخه مخکي دي په لاندي چارو کي عامه پوهاوی تر سره شي:

۱- د اوبو مجراوو په تل او حریم کي د خپل سرو ودانیو د جوړولو څخه مخنیوی.

۲- په اوبخور کي د نیالګیو ایښودلو ارزښت.

۳- د وریځو او اورښت د نښي پیژندنه.

۴- د سیلاب د ځنډوونکو تأسیساتو جوړولو اغیزي.

۵- په امن ځای کي د خوراکي توکو خوندي کول، د تجهیزاتو او اړینو اسنادو ساتنه.

مکاتب در قراء و قصبات صورت گیرد.

<u>آگاهی دهی عامه قبل از وقوع سیلاب</u>

مادهٔ پانزدهم:

آگاهی دهی قبل از وقوع سیلاب، در امور ذیل صورت گیرد:

۱- جلوگیری از اعمار ساختمانهای خودسر در حریم و بستر مجاری آب.

۲- موثریت غرس نهال در حوزه آبریز.

۳- شناسایی نشانه های ابر و بارندگی.

۴- مؤثریت احداث تأسیسات تأخیری سیلاب.

۵- ذخیره مواد غذایی در مکان مصئون و حفاظت از وسایل و اسناد ضروری.

۶- د بندونو ماتیدو او د ناڅاپي سیلابونو د راتلو امکان.

۷- د جهیلونو او یخچالونو د ماتیدو امکان.

۸- د بریښنا بهیر پرې کیدو، د گاز پایپونو او د اوبو نلونو ساتني ته پاملرنه.

۹- د اوبو مجراوو پاکول او خلاصول، او

۱۰- د سیلاب مدیریت د ښه والي په هکله د عامه پوهاوي نور اړونده معلومات.

<u>د سیلاب د بهیدو پر مهال عامه پوهاوی</u>

شپاړسمه ماده:

د سیلاب د بهیدو پر مهال دي په لاندي چارو کي عامه پوهاوی تر سره شي:

۱- د راډیو، تلویزیون، د نورو رسنیو پیغامونو او د سیلاب خبرتیا آلارمونو ته پام کول.

۶- احتمال شکست بندها و سیلاب های ناگهانی.

۷- احتمال شکست جهیل ها و یخچال ها.

۸- قطع جریان برق، توجه به حفاظت لوله های گاز و نل های آب.

۹- لایروبی و باز گشایی مجرای آب، و

۱۰- سایر معلومات مرتبط به آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب.

<u>آگاهی دهی عامه در جریان وقوع سیلاب</u>

مادهٔ شانزدهم:

آگاهی دهی در جریان سیلاب در امور ذیل صورت گیرد:

۱- توجه به پیام های رادیو، تلویزیون، سایر رسانه ها و آلارم های هشدار دهی سیلاب.



ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

۲- د سیلاب ګواښ د اعلان په صورت کې د کورونو تشول او لوړو سیمو ته د خلکو تلل.

۳- د ممکنه لارو په پام کې نیولو سره، کښته سیمو ته خبرتیا رسول.

۴- هغو خلکو ته خبرتیا رسول چې د سیندونو په حریم او تل کې تګ او راتګ کوي.

۵- د سیلاب له لارو څخه د څارویو لرې کول.

۶- په سیلاب ځپلې سیمه کې د موټر نه چلول.

۷- د پورتنیو سیمو اوسیدونکو څخه د مرستې غوښتل. او

۸- د سیلاب مدیریت د ښه والي په هکله د عامه پوهاوي نور اړونده معلومات ورکول.

<u>د سیلاب پیښیدو څخه وروسته عامه پوهاوی</u>

اوولسمه ماده:

۲- در صورت اعلان خطر سیلاب، تخلیه خانه ها و رفتن مردم به ساحات مرتفع.

۳- اطلاع رسانی به نقاط پائین دست از طریق امکانات ممکنه.

۴- اطلاع رسانی به مردم که در حریم و بستر دریاها گشت و گذار می کنند.

۵- دور کردن مواشی از مسیر سیلاب.

۶- عدم رانندگی در منطقه سیل زده.

۷- درخواست کمک از اهالی مناطق بالا دست، و

۸- سایر معلومات مرتبط به آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب.

<u>آگاهی دهی عامه بعد از وقوع سیلاب</u>

مادۀ هفدهم:



Water Policy Department

د سیلاب پیښیدو څخه وروسته دي په لاندې چارو کې عامه پوهاوی تر سره شي:

۱- د سیلابي اوبو څخه ګټه نه اخیستل.

۲- په سیلاب ځپلي سیمه کې د موټر نه چلول.

۳- د سیلاب ځپلي سیمي څخه لرې کېدل او ورته نه ننوتل.

۴- کورته د بیرته ستنیدو لپاره د سیمه ایزو چارواکو سپارښتنو ته پاملرنه.

۵- د سیلاب د پیښیدو له امله د رامنځته کیدونکو ناروغیو خپریدل، او

۶- د سیلاب مدیریت د ښه والي په هکله د عامه پوهاوي نور اړونده معلومات ورکول.

<u>همغږي</u>

اته لسمه ماده:

په اوبخورو کې د اوبو سرچینو عمومي ریاست په تخنیکي مرسته د سیندي عمومي او فرعي

آگاهی دهی بعد از وقوع سیلاب در امور ذیل صورت گیرد:

۱- استفاده نکردن از آبهای سیلابی.

۲- عدم رانندگی در ساحه سیلاب زده.

۳- داخل نشدن و دور بودن از ساحه سیلاب زده.

۴- توجه به سفارش های مسئولین ساحه به منظور برگشت به خانه.

۵- شیوع بیماری های ناشی از وقوع سیلاب، و

۶- سایر معلومات مرتبط به آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب.

<u>هماهنگی</u>

مادهٔ هژدهم:

هماهنگی جهت تطبیق پلان های آگاهی دهی عامه در حوزه آبریز از طریق ریاست های حوزه های

حوزو ریاستونو له لارې د عامه پوهاوي لپاره د پلانونو پلي کولو په موخه همغږي.

<u>د عامه پوهاوي د مطالبو خپرول</u>

نو لسمه ماده:

(۱) د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري په مجله کې د دې کړنلارې د (۱۵ تر ۱۷) مادو په جزونو کې د درج شوو مطالبو خپرول.

(۲) د سیلاب مدیریت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي ټولنیزه شبکه رامنځته او د سیلاب اړونده مطالب دې پکې خپاره شي.

(۳) د راډیو او تلویزیون له لارې د سیلاب پېښېدو د پیغامونه خپرول.

<u>د روزنیزو برنامو جوړول</u>

شلمه ماده:

(۱) د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې او میرابان دې د عامه پوهاوي پیغامونه د ښوونځیو،

عمومی و فرعی دریائی در همکاری تخنیکی ریاست عمومی منابع آب.

<u>نشر مطالب آگاهی دهی عامه</u>

مادهٔ نزدهم:

(۱) مطالب موارد مندرج اجزای مواد (۱۵ الی ۱۷) این طرزالعمل در ماهنامه اداره ملی تنظیم امور آب نشر گردد.

(۲) شبکه اجتماعی تحت نام آگاهی دهی عامه جهت بهبود مدیریت سیلاب ایجاد و مطالب مرتبط به سیلاب نشر گردد.

(۳) نشر پیام های وقوع سیلاب از طریق رادیو و تلویزیون.

<u>تدویر برنامه های آموزشی</u>

مادهٔ بیستم:

(۱) انجمن های استفاده کننده گان آب و میراب ها پیام های آگاهی دهی عامه را از طریق مکاتب،

جوماتونو او مدرسو له لارې خپاره کړي.

(۲) د دې کړنلارې د (۱۵ تر ۱۷) مادو د جزونو د درج شوو موضوعاتو په موخه، د عامه پوهاوي برنامې تر سره شي.

<u>خبرتیا</u>

یوویشتمه ماده:

د عامه پوهاوي لپاره د سیلاب د پېښېدو خبرتیا، د اړونده کړنلارې د احکامو په رڼا کې دې تر سره شي.

<u>د لوایحو او لارښودونو وضع کول</u>

دوویشتمه ماده:

د اوبو سرچینو عمومي ریاست د اړونده ریاستونو په مرسته د دې کړنلارې د ښه پلي کېدو لپاره د اړتیا وړ لایحې او لارښودونه وضع کړي.

مدارس و مساجد اطلاع رسانی کنند.

(۲) برنامه های آموزشی جهت آگاهی دهی عامه در موارد مطالب مندرج اجزای مواد (۱۵ الی ۱۷) این طرزالعمل صورت گیرد.

<u>هشدار دهی</u>

مادۀ بیست ویکم:

هشدار دهی از وقوع سیلاب جهت آگاهی دهی عامه در روشنائی احکام طرزالعمل مربوطه صورت گیرد.

<u>وضع لوایح و رهنمود ها</u>

مادۀ بیست و دوم:

ریاست عمومی منابع آب در همکاری با ریاست های مربوطه جهت تحقق اهداف این طرزالعمل می تواند رهنمود ها و لوایح مورد نیاز را وضع نماید.

**انفاذ**

**درويشتمه ماده:**

**دا کړنلاره د منظورۍ څخه وروسته نافذه ده.**

**په اوبخور کي د سيلاب مديريت د ښه والي لپاره د عامه پوهاوي کړنلاره چې په ۳ څپرکو او ۲۳ مادو کي تنظيم شوې، منظور ده.**

**انفاذ**

**مادهٔ بيست و سوم:**

**اين طرزالعمل بعد از منظوری نافذ است.**

**طرزالعمل آگاهی دهی عامه جهت بهبود مديريت سيلاب در حوزه آبريز که در ۳ فصل و ۲۳ ماده تنظيم گرديده، منظور است.**

د منظورۍ نېټه: ۱۳۹۹ ل.هـ کال د سلواغه مياشت
تـــاريخ منظـــوری: مـــاه دلـــو ۱۳۹۹ هـ.ش

**انجنير خان محمد "تکل"**

**د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري لوی رئيس**



ضميمه: کميته تسويد